مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۰/۰۳/۰۸

## ښځه:

## له مبارکۍ دې تېره یم، انسان مه وژنه او عقل وکاروه!

مورږ چې ښځو ته د مارچ اتمې مبارکي لیکو، نو له ځانه سره څه فکرکوو؟

لږ شرمیږو نه؟

خپله مبارکي ځنګه راته ښکاري؟

دروغ؟

تفنن؟

رواج پرځای کول؟

تمثیل؟

ځانښوونه؟

د مدنیت اکټ؟

که
ریښتیا، مینه؟

نه پوهیږم. هغه ټولنه، چې تر ټولو زیاته انسانوژنه کوي او لا هم د ( انسان) د ( ژوند ) (حق) نه پیژني، نو ښځې ته په کومه ژبه مبارکي ویلای شي؟

مورږ لا انساني ټولنه جوړه کړې نه ده، تر دې مبارکیو پورې خورا لوی مزل پاتې دی. افغانې ښځې ته چې نارینه مبارکي ورکوي، نو هغه ورته په سترګو کې ډېرې خبرې کوي، بېخي ډېرې!!!

یوه یې دا چې:

**له مبارکۍ دې تېره یم، انسان مه وژنه او عقل وکاروه!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ